څه شی دی او څه فایدي لری GPRS

GPRS (General Packet Radio Service)
ستاسي دموبایل ستنه GSM ته یو Packet
Switchedوراضافه کوي ددغه تکنالوجي
دکارولو دپاره باید PDA یا موبایل ولری
چي GPRS حمایه کړي او هغه شرتکت ته لاس
رسی پیداکړي کوم چي د GPRS خدمتونه
وړاندي کوي .

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

GPRSدکارونکو دپاره درې فايدې لري اول داچي تاسي کولای سئ چي د GPRS په مرتسه داينټرنيټ سره وصل سي او دهرځل وصلېدو دپاره تاسي اړ نه ياست چي دمربوطه شرکت سره تماس ونيسی. دوهم داچي GPRS دموبايل ترمعمولي سرعت څو چنده زيات سرعت لري. دموبايل معمولي سيګنالونه حداکثر 9.6 کيلو بايټه په يوه ثانيه کي سرعت لري او ياد HSCSD (High-Speed Circuit Switched Data)سرعت په يوه ثانيه کي حد اکثر 1.44 کيلو بايټه دي پداسي حال کي چي GPRSپه يوه ثانيه کي د 40 کيلوبايټو سرعت په لرلو سره کولای سي چي په اسانی دانټرنيټ سره وصل سي چي کم ترکمه دعادي سرعت څلور برابره کيږي .

دريمه فايده يې داده چي وړاندي کونکی شرکت يوازي او يوازي د ډيټا داستولو او راوړلو پراساس ستاسو څخه افغانی اخلي پدې معنی چي که چيري تاسي ټوله ورځ دانټرنيټ سره وصل ياست پرتاسي کوم مصرف نه راځي خو که چيري تاسي کوم پيغام استوئ نو بيا پرتاسي مصرف نه راځي .

GPRS دڅه شي دپاره کاروو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

بریښنالیکونه: تاسي کولای سئ چي هروخت خپلو دوستانو ته په کمو پیسو پیغامونه واستوی .

مخامخ خبري او باندار: دانټرنیټ سره تړاو تاسوته دا زمینه برابروي چي د MSN messenger ،AOL messenger ،IC9،IRQ، Yahoo Messengerاو Skype دلاري دخپلو دوستانو سره مخامخ خبري، لیکل او باندار وکړئ .

دMMS (Multimedia Messaging Service):

MMSدلاري کولای سي چي خپلو دوستانو او ملګروته عکسونه، ږغونه او ویډیو واستوی چي داد SMS یو پرمختللی شکل دی .

د GPRS دنده :

که څه هم GPRS داطلاعاتو دانتقال سرعت یه ثانیه کي تر IIS پوري رسوي خو په عمل کي يې سرعت په ثانیه کي 40 کیلو بایټه دی .

GPRSڅلور ډوله کوډونه لري CS1, CS2, CS3, CS4هریو ددغو کوډونو څخه یه ثانیه کي د 21,4 کیلو بایټه اطلاعاتو داستولو توان لري او پدې 21.4 کیلو بایټه کي يې یوه برخه داطلاعاتو دپوره رسولو پخاطر ورسره یو ځای سویدي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

CS1کوډ یوازي 9 کیلوبایټه داطلاعاتو استولو لپاره وکاروی نور ټول داطلاعاتو دصحیح او پوره استولو لپاره کاروی .

CS2او CS3 ډیر سرعت لري او 13, 4 یا 15, 6 کیلو بایټه اطلاعات په یوه ثانیه کي لیږي .

اوپه CS4 کي داطلاعاتو دانتقال سرعت واخیرني حد ته رسیږي پدې معنی چي ټول 21.4 کیلو بایټه ټول دډیټا داستولو لپاره کاروي .

د GPRS سته شرکتونه یوازي CS2 او CS1 دکښته سرعت په کارولو سره وړاندي کوي او په لازم وخت کي یې یو دبل پرځای کاروي.

Mohammad Noor
mnoor.h444@gmail.com

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library